# Role of literary societies of Bannu in the Promotion of Pashto Literature

# د پښتو ادب په وده کښې د بنو د ادبي ټولنو کردار

Tariq Mahmood Danish Ph.D*
Dr. Kiran Saneen**

***Abstract***

This research study examines the growth and emergence of literary societies (Adabi Tolana) in Bannu which have added great value to the Pashto Literature. The survey first highlights the contributions of Tahir Kulachvi in arranging The Bannu Literary Society (Adabi Tolana Bannu) which advanced with a Critical Society Bannu (Tanqidi Tolana Bannu). In this way, small literary societies in Bannu started to develop in areas like Miryan, Mamash Khel, Mandan, Domel and Fatah Khel. The study, later, pinpoints the literary and critical approaches of other societies like The Surrani Literary Carvan (Surrani Adabi Carvan) and The Critical Society of Dawood Shah Bannu. Lastly, the researcher has described the innovative and conscientious approaches of The League of Progressive Authors Bannu.

ضلع بنو د خیبر پښتو نخوا یوه د فطرت په رنګ، رڼااو وړمو رنګینه، روښانه او معطره او د سیاست، معیشت، معاشرت او د لوبو او کلتور په اړه ارزښتناکه ضلع ده چې بنیاد ئې په ۱۹۴۸کښې ایډورډ ایښے وۀ. د بنو زرخېزه او مردم خېزه سیمه په جغرافیائي لحاظ د سوېلي سیمو زړۀ یادېږي په دې حقله محمد حیات خان لیکي:

"که څۀ هم دا ضلع د لویو غرونو په ذریعه محصور شوې ده ، خو د بهنګي خېلا نو د سیمې نه پرته د کرنې ټولې زمکې ئې په اوارو سیمو کښې پرتې دي، تر ټولو نه ښۀ لومړۍ درجه زراعتي زمکه ئې د بنو په پرګنه کښې

* Lecturer GDC, SK Bala Bannu
** Assistant Professor, Bacha Khan Study Centre, Bacha Khan University Charsada

موقعیت لري ، چې د کرمې د سیند په ذریعه خړوبېږي او ښۀ زراعتي حاصلات ورنه تر لاسه کېږي". (۱)

د بنو خاورې د ژوند په هره څانګه کښې د قامي او د نړیوال کچ پیاوړي پېدا کړي دي. چې څرنګ ئې د ژوند په نورو څانګو کښې پر مختګ کړے دے هم داسې د شعر و ادب په مېدان کښې هم د چا نه کمه نۀ ده.
او په ادب کښې هم د ټولنیز ادب خبره کوم چې دا زمونږ موضوع هم ده یعني "د پښتو ادب په وده کښې د بنو د ادبي ټولنو کردار"
خو د دې نه مخکښې چې د بنو د ادبي ټولنوکردار په ګوته کړو ، یو سر سري نظر د پښتو ادبي ټولنو په آغاز او ارتقاء هم اچوؤ. په دې حقله ښاغلے ډاکټر جاوېد خلیل لیکي:

"که چرې مونږ د پښتو ثقافتي تاریخ ته ځیر شو نو معلومېږي چې د پښتنو په سیمه د ادبي جرګو جوړښت د دولسمې صدۍ هجرۍ نه شروع کېږي دغه وخت په قندهار کښې د هوتکو پښتنو بادشاهي وه. شاه حسین ۱۱۱۴ نه ۱۱۵۲ په خپله هم د پښتو ژبې شاعر وۀ."(۳)

بیا د شاه حسېن د "ادبي دربار" نه پس بله ټولنه هم په قندهار کښې په نظر راځي کومه چې سردار مهر دل خان مشرقي ۱۲۱۲ نه ۱۲۸۱ جوړه کړې وه :

"د دې نه پس تر شلمې پیړۍ عیسوي پورې بیا د ټولنو جرګو معلومات نۀ شته تر دې چې په پښتنو کښې ملي غېرت او قامي شعور غزونې وکړې د جرګو ، ټولنو جوړېدل شروع شول."(۴)

ښاغلے جاوېد خلیل مخکښې لیکي:

"په کوزه پښتونخوا کښې په کال ۱۹۲۱ کښې انجمن اصلاح الافاغنه په اتمانزو کښې جوړ شو. دې انجمن د شپږو فقرو یو آئین لرلو. که څۀ هم د انجمن کار اصلاحي وۀ په پښتنو کښې د تعلیم دعامولو ، د پښتنو نه د بدو عاداتو لرې کولو په ښو کارونو کښې د برخې اخستو کار کولو ، خو دې انجمن د پښتو ژبې او ادب د ودې په لاره کښې هم د قدر وړ کارونه

وکړل ، اکثر کارکنان ئې د پښتو مشهور ادیبان شاعران وو ـ" (۵)
د دې انجمن سره جخت غازي امان الله خان بادشاه په ۱۹۲۲ کښې د پښتو د ترقۍ د پاره یوه ټولنه جوړه کړه چې "مرکه د پښتو: نومېدله ـ (۲)

د دې نه پس کال ۲۵ـ ۱۹۲۴ کښې د اسلامیه کالج پېښور "بزمِ ادب" ، په کال ۱۹۳۲ کښې قندهار کښې یو پښتو ادبي انجمن چې میاشتنۍ رساله ئې هم شروع کړې وه ـ (۷)
په کال ۱۹۳۴ کښې د ښاغلي عبدالخالق خلیق عبدالحنان حامي په زیار په سرحدي صوبه نوښار کښې : پښتو ادبي جرګه نوښار" جوړه شوه ـ (۸)
دغه رنګ د ۱۹۳۲ د هشتنغر زلمے لیکوال" (۹) ، په کال ۱۹۳۲ کښې د حمزه بابا "بزمِ ادب" (۱۰) ، په کال ۱۹۴۳ کښې د نصر الله خان نصر پښتو ادبي ټولے ورپسې په کال ۱۹۲۹ کښې کاکا جي صنوبر حسېن اولسي ادبي جرګه جوړه کړه ـ (۱۱)
په افغانستان کښې د مخکښې نه حکومت پښتو ته توجه ورکړې وه ولې په کوزه پښتونخوا کښې د پاکستان جوړېدو نه پس اول ځل په سرکاري توګه د مولانا عبدالقادر صاحب په کوششونو په ۱۹۵۵ کښې د پښتو اکیډمۍ بنیاد کېښودے شو چې په خپلو کمو او نشته وسائلو د توقع نه زیات کار کوي ـ
د دې سره سره د پښتونخوا په ټولوضلعوکښې د پښتو ادبي تنظیمونو لړۍ روانه شوه ـ خو چونکه زمونږ موضوع د پښتو ادب په وده کښې د بنو د ټولنو کردار ده ، نو اوس راځو چې په ذکر شوي موضوع رڼا واچوو ـ
په بنو کښې فعالې ، کم فعالې او غېر فعالې تقریبا ۳۷ ټولنې یا جرګې شتون لري ـ
لکه د نورې پښتونخوا د بنو په سیمه هم د نامعلومې مودې راهسې تر د شلمې پېړۍ عیسوي نیمائي پورې په ځانګړې توګه شعر و شاعري شوې ده ـ البته په منظم او ټولنیزه توګه ادبي هلې ځلې د شلمې پېړۍ د نیمائي نه پس په اول ځلَ په ګورنمنټ ډګري کالج بنو کښ په ۱۹۵۳ کښې په نظر راځي په دې حقله ښاغلے ګل ایوب سېفي په خپل کتاب "تاریخ بنو وزیرستان " کښې لیکي!

"پشتو بزمِ ادب کی بنیاد ڈگری کالج بنوں میں سید تقویم الحق کاکا خیل حلیمی نے رکھی تھی۔ اس بزم میں میاں جمیل الرحمن بوزہ خیل، دل جان صیب بیگو خیل مروت، رحمت اللہ درد، عبدالرحیم

مجزوب، نصراللہ جان دھرمہ خیل، راقم الحروف، شریف اللہ خان عباسی، میر اسلم خان بیتا خیل،
خالق داد زاہد اور مقبول صاحب حصہ لیتے رہے ہیں۔"(۱۲)

## پښتو ادبي ټولنه بنو:

په کال ۱۹۵۲ کښې وجود ته راغلې دا ادبي ټولنه د بنو ړومبۍ د ټولو نه لویه ټولنه وه. د دې ټولنې د جوړولو په اړه ارواښاد ګل ایوب سیفي د باني په حېث دعویٰ لري چې:

اِس ٹولونے اس انجمن میں طاہر کلاچوی، عقاب خٹک، پیر غلام شمشی خیل، غازی سیال، مطیع اللہ قریشی، مجبور سورانی، مولوی بہادر خان ہنجل اور اثاری گل اثار وغیرہ حصہ لیتے رہے، لیکن اس ٹولونہ بنوں میں اس کی بنیاد راقم الحرف نے رکھی تھی۔(۱۳)

"پښتو ادبي ټولنه بنو د طاهر کلاچوي، عبدالرحیم مجذوب ، شربت خان شربت او اثاري ګل اثار په کوشش او زیار سره په کال ۱۹۵۲ کښې جوړه شوه (۱۴) "

او حقیقت هم دا دے چې د پښتو ادبي ټولنې بنیاد ارواښاد طاهر کلاچوي د خپلو ملګرو په مرسته سره ایښے دے. دا خبره ارواښاد مجبور سوراني په خپله تذکره "د بنو ادب" کښې داسې کوي:

"په کال ۱۹۵۲ کښې طاهر کلاچوي صاحب د خپلو ملګرو په تعاون سره د پښتو ادبي تولنه بنو په نوم ادبي انجمن جوړ کړو. "(۱۵)

غازي سیال صاحب خو پرې د تصدیق مهر ثبت کوي لیکي:

"د طاهر کلاچوي خپل اصلي نوم غلام سرور وؤ. د پلار نوم ئې فقیر نور محمد وؤ په ۱۹۱۸ کښې پېدا شوے وؤ د شاعرۍ ابتدا ئې اردو نه کړې وه د انجمن ترقۍ اُردو "سره وابسته وؤ. په ۱۹۵۲ کښې ئې د ادبي ټولنه بنو "بنیاد کېښودو چې تر ننه پورې د ادبي تولنه بنو په نوم چلېږي." (۱۲)

د ډاکټر جاوېد خلیل تر مخه ړومبۍ کابینه ئې هم په دغه کال ټاکلې شوه وه ، صدر ئې طاهر کلاچوي مشر سېکټر ئې اثاري ګل اثار وؤ. د ټولنې دفتر د بنو ښار د تحصیل ګلۍ د میر احمد شاه عزیز صاحب په کور کښې وؤ. ټول پکښې دوه پنځوس غړي وو. د

ادب خدمت ئې کولو د حکومت مرسته ورته حاصله وه په میاشت کښې یوه غونډه ئې کوله قامي ملي ورځې ئې هم نمانځلې چې طاهر صاحب وفات شو نو څۀ موده ټولنې د طاهر صاحب برسي هم نمانځله. خو اوس د څۀ وخت نه خاموشي ده.

دا ټولنه خپل چاپ آئین لري چې شپاړس صفحې دے او دیارلس غټې دفعې لري چې تول ئې پابند دي. د تولنې د رودادونو رجسټر هم شته.

دې ټولنې د بېلا بېلو مشاعرو او سیمینارونو نه علاوه یوه ضخیمه تذکره په ۱۹۸۳ کښې د "سوبلې ستوري" په نوم چاپ کړې ده. او یو کتاب ئې د مجبور صاحب په قول "سپرلي" چاپ کړے دے.

خو حقیقت دا دے چې هغه ټول کتابونه چې یا خو پښتو ادبي ټولنې خپرۀ کړي دي یا د ټولنې غړیو چاپ دي دا دي:

| | |
|---|---|
| ۱. سوبلي ستوري تذکره | (اسد قریشي مولانا) |
| ۲. د مینې غېږ، | (طاهر کلاچوي) |
| ۳. مضراب | (طاهر کلاچوي) |
| ۴. د حسن لمن | (طاهر کلاچوي) |
| ۵. ژوند او سلګۍ | جمشېد علي جمشېد |
| ۶. مزل په ازغو | جمشېد علي جمشېد |
| ۷. رسمونه زنځیرونه | جمشېد علي جمشید |
| ۸. پلِ صراط | جمشېد علي جمشېد |
| ۹. سپرلي | رشید بوهر |
| ۱۰ چینې او چنارونه | رشید جوهر |
| ۱۱. سندره | رشید جوهر |
| ۱۲. د حجاز ګل | شریعت خان سائل |
| ۱۳. خزائن الجواهر | شریعت خان سائل |
| ۱۴. د جمعیت لعلونه | شریعت خان سائل |

## پښتو تنقيدي ټولنه بنو:

د مجبور صاحب تر مخه تقريباً پينځهٔ کاله پښتو ادبي ټولنه بنو د بنو واحده نمائنده ټولنه وه ـ خو د ټولنې په اهمو عهدو باندې داسې کسان قابض وو چې صرف طرحي غېر طرحي مشاعرې به ئې د ادب خدمت ګڼلو او د هغو ساهو ليکوالو ځائے ورک شو کوم چې د نوي دور د تقاضو مطابق د نورو ادبياتو نه هم خبر وو او تنقيدي اجلاسونه ئې هم قائمول غوښتل ـ روستو ليکي:

"د مجبورۍ نه دغه کسانو د يوې داسې ادبي ټولنې د جوړولو ضرورت محسوس کړو چې په هغو کښې د مشاعرو نه علاوه تنقيدي اجلاسونه هم کېږي ، د نوو ليکوالو اصلاح او حوصله افزائي هم او د پښتو نوے ليکوال د ادب د ټولو صنفونو سره هم متعارف کېږي ـ نو دغه ساهو ليکوال د ښاغلي عبدالرحيم مجذوب صاحب په مشرۍ کښې راغونډ شول او په کال ۱۹۲۱کښې ئې د اولسي تنقيدي ټولنه بنو" په نوم يو ادبي انجمن جوړ کړو او د دې اولسي تنقيدي تولنه بنو اولني انتخابات په دې ډول شوي وو.

| | |
|---|---|
| صدر: | عقاب خټک |
| عمومي سېکتر: | سيد امير سرحدي |
| پروپېګنډه سېکتر: | ګل ايوب سېفي |
| پنګه ور: | عبدالرحيم مجذوب (۱۷) |

غونډې ئې اول پينځلس ورځنۍ وې وروستو مياشتنۍ شوې ـ د ۱۹۲۱ نه تر ۱۹۲۲ پورې مسلسل هر کال انتخابات وشول ـ خو وروستو سعد الله جان برق صاحب تجويز وړاندې کړو چې:

"مونږ ګورو چې په اکثر ټولنو کښې د عهدو په تقسيم د ليکوالو په مينځ کښې زړهٔ بدګي راځي نو زهٔ وايم چې مونږ تاسو به د ټولنې عهدې ختمې کړو دپروګرام چلولواود اِجلاس د رابللو د پاره به صرف يوه عهده د عمومي سېکتر پرېږدو صدر به په هر اجلاس کښې په موقعه موزون کس خوښوو.
د برق صاحب دا تجويز ټولو ملګرو منظور کړو او د عمومي سېکتر د عهدې د پاره ښاغلے رجب خان رجب په اتفاق سره خوښ کړے شو ـ " (۱۸)

د ۱۹۲۲ نه تر ۱۹۸۰ پورې انتخابات نۀ وشول. په ۱۹۸۰ کښې يو ځل بيا انتخابات شروع شول او تر ننه پورې هر کال په انتخاباتو کابيني جوړېږي.
د بنو ادب تر مخه مجبور صاحب لاندېني هغه کتابونه په ګوته کړي دي چې ياخو تنقيدي ټولني خپرۀ کړي دي يا د ټولنو د تربيت شويو غړيو کتابونه دي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱. | شيشه وسنګ، | خان زمان |
| ۲. | ارمانونه | مطيع الله قريشي |
| ۳. | رمبيل چمبيل | مطيع الله قريشي |
| ۴. | ګل مخونه کاڼي زرونه | مطيع الله قريشي |
| ۵. | ملي سندرې | مطيع الله قريشي |
| ۶. | د تاريخ يوڅو پاڼې | مجبور سوراني |
| ۷. | د بنو ادب | مجبور سوراني |
| ۸. | زلفې او رخسار | مجبور سوراني |
| ۹. | د اسلام معاشي نظام | مجبور سوراني |
| ۱۰. | رڼالار | مجبور سوراني |
| ۱۱. | د عقيدت ګلونه | مجبور سوراني |
| ۱۲. | د سپرلي يادونه | مجبور سوراني |
| ۱۳. | د انسانيت نمونه (ناول) | سيد امير سرحدي |
| ۱۴. | رڼا (نعتونه) | سيد امير سرحدي |
| ۱۵. | رحمن بابا تحقيق | عقاب خټک |
| ۱۶. | په طاهر کلاچي تنقيد | عقاب خټک |
| ۱۷. | د ميو جام | اصغر بنوچي |
| ۱۸. | زخمونه | بهادر خان هنجل |
| ۱۹. | د بنو او وزيرستان تاريخ : | ګل ايوب سېفي |
| ۲۰. | بنوڅې سندرې | محمد حيات خان حيات |
| ۲۱. | ډډوزې | نيک سوراني |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲. | سرِ سپل | هارون سوراني |
| ۲۳. | پړاو | هارون سوراني |
| ۲۴. | سکروټې | افتخار دُراني |
| ۲۵. | د میرګل شاه نغمې | شاهین سوراني |
| ۲۶. | سیماب | نور قادر شاه سیماب |
| ۲۷. | پرېږده چې خاندم په چغو چغو | ممتاز علي خان ممتاز |
| ۲۸. | ژوند او ښکلا | غازي سیال |
| ۲۹. | پرخه په ګلونو | غازي سیال |
| ۳۰. | للمي ګلونه | امان الله مېنل |
| ۳۱. | بنزے (ناول) | غازي سیال |
| ۳۲. | منګرۍ (ناول) | غازي سیال |
| ۳۳. | کشماله (ناول) | غازي سیال |
| ۳۴. | د آزادۍ سحر | غازي سیال |
| ۳۵. | د موسیقۍ روح | غازي سیال |
| ۳۶. | سیورے (فسانه) | غازي سیال |
| ۳۷. | رنګونه بهارونه | غازي سیال |
| ۳۸. | ریګزارونه ګلزارونه | نعیم سوراني |
| ۳۹. | ژغژغۀ تذکره (بېتاب مولف) | بېتاب عادلوي |
| ۴۰. | مخکښې په ځو (تذکره) | بېتاب عادلو (مولف) |
| ۴۱. | خازې | فلک ناز ناز |
| ۴۴. | قسمت که ښۀ شي | عُمر زاد منتظر |
| ۴۵. | زرغون ګلونه | اسلام الدین دلګیر |
| ۴۶. | د ډېوې سترګه (ترجمه) | طارق محمود دانش |
| ۴۷. | وچې شونډې | ماسټر جمال |

د ډېر وخت نه تنقیدي ټولنه د خپلو روایاتو تر مخه د میاشتنۍ تنقیدي نشستونو او کلیزو مشاعرو نه علاوه د بېلا بېلو سېمنارونو تابیا هم کوي ـ او ورسره ورسره خپل لیکلے

شوے اٰئین لري چې کابینه او ټول غړي ئې پابند دي ۔ ماسټر جمال صاحب ئې تاحیات سرپرست دے۔ لنډه دا چې تنقیدي ټولنه بنو د پښتو ادب په وده کښې خپل ځانګړے بې کچه کردار لري۔

## پښتو ادبي جرګه میرا خیل :

دا جرګه هم د بنو په پخوانو جرګو کښې ده چې په ۱۹۷۸ کښې معرض وجود ته راغلې ده په دې حقله ښاغلے ډاکټر جاوېد خلیل لیکي:

"د اکتوبر په دریمه نېټه کال ۱۹۸۵ دوئي یوه مشاعره وکړه۔ په دې مشاعره کښې هر شاعر خپل کلام په خپله خلۀ واورولو وروپسې ئې سمدستي د یوې ادبي جرګې د جوړښت اعلان هم وکړو ۔ چې باني او سرپرست اعلے ئې حصار میرا خېل غوره کړو ۔ د هر یو غړي په سرلس روپۍ میاشتیزه چنده مقرر کړې شوه ۔ انتخابات وشول چې په نتیجه کښې ئې لاندینۍ کابینه وجود کښې راغله:

| | |
|---|---|
| سرپرست: | حصار میرا خیل |
| صدر: | کبیر خان |
| مشر سېکتر: | عمل داد فریادي |
| کشر سېکتر: | فرید الله اسیر |
| خزانچي: | نیاز خان نیاز (۲۱) |

دا جرګه هر کال د خوشحال بابا او رحمان بابا د ورځو نمانځلو نه علاوه قومي او ملي ورځې هم نمانځي شپېږ اٰئیني دفعې لري چې ټول ئې پابند دي۔ چاپ اثار ئې نۀ لرل خو اوس ئې یو اُردو کتاب (کانټے اور کلیاں) چاپ شوے دے۔

## زلمي لیکوال :

د ښاغلي ډاکټر جاوېد خلیل د څېړنې تر مخه دا اول په څلورم ستمبر ۱۹۸۱ کښې د پښتو ادبي جرګه میریان په نوم په میریان کلي کښې جوړه شوې وه ۔ وروستو ئې دفتر ښار ته منتقل کړو نوم ئې هم "زلمي لیکوال شو" ړومبي غړي ئې دا وو:

۱: عرفان الله عرفان ۲: محمد سعید اعوان
۳: رفیع عاجز ۴: الیاس ممش خیل
۵: خالد رحمن خالد ۲: میر داد خان زاهد
۷: افتخار دُراني ۸: اسلم راهي

"زلمي لیکوال" په ریلوے روډ بنو د خپل دفتر نه علاوه ائین هم لري چې تول غړي ئې د هرې دفعې پابند دي۔ د چاپ اثارو په اړه ئې ښاغلے جاوېد خلیل لیکي:

"لیکوال په چاپي اثارو کښې "مړاوے ګل" لري چې د ځواني مرګ ګلاب رحمن فدائي د شعرونو مجموعه ده ۔ د دې نه علاوه د آیاز پیر خیلي "څۀ خوارۀ څه تراخه" نومې کتاب هم د کتابت مرحلې نه لګیا دے تېرېږي۔ (۱۹)

د غړو د وینا مطابق دا کتاب به هم ډېر زر پرېس ته حواله کړے شي۔

د جاوېد خلیل صاحب تر مخه:

"زلمي لیکوال" په میاشت کښې یوه غونډه کوي په دې غونډو کښې تنقیدي محفلونو نه علاوه ستړې مشاعرې هم کوي اسلامي قامي ورځې هم نمانځي د سترو شعراو په یاد کښې دستورې هم کوي۔

د لیکوال اوسني عهدېداران دا دي:

| | |
|---|---|
| سرپرست: | قادر داد خان سودا |
| صدر: | تاج محمد عقاب |
| مشر سېکتر: | دلفراز خان فراز |
| کشر سېکتر: | اسرار خان عاصي |
| پنګه ور: | فرزند علي باچا (۲۰) |

## ممش خیل ادبي ټولنه:

ممش خېل ادبي ټولنه که څه هم د ۱۹۸۲ نه راروانه ده خو تنظیمي وجود ئې نۀ وه ، باقاعده مضبوط تنظیمي وجود ئې په ۲۰۰۸ کښې موندلو د هغه وخت نه ئې هر کال په انتخاباتو کابینه جوړېږي۔ د طرحي او غېر طرحي مشاعرونه علاوه هر کال یو غټ پروګرام کوي چې پکښې د سیمې مشران هم ګډون کوي تنقیدي نشستونه هم کوي کار او زیار ئې

دا د ے۔

۱. ځلند ستوري (تذکره) ۲: "احساسات" د رحمت الله رحمت شعري مجموعه

۳. "عصمت ژوند ے د ے" د عصمت الله عصمت مرحوم شعري مجموعه

کابینه:

| | |
|---|---|
| صدر: | رحمت الله رحمت |
| نائب صدر: | حمید الله حمید |
| مشر سېکتر: | عطاء الله فقیر |
| جائنټ سېکتر: | شیر داود خان اندیش |
| پریس سېکتر: | ناصر شاه ناصر |
| پنګه ور: | حضرت علي تنها |
| سرپرست: | اجمل شاه سائل |
| اعزازي ملګري: | ملک صبیح الله خان |

حاجي محمد نواز خان

حاجي اصل خان

## عادل ادبي ملګري :

دا جرګه په ۱۹۹۱ کښې جوړه شوې وه په ابتدا کښې ئې ډېر فعال کردار درلودو ۔ دوې چاپ تذکرې لري ۔ ۱ ۔ غوټۍ به ګل شي ۲۔ اوربلکي ۔ بېتاب عادلوي ئې باني او صدر وۀ او رشید ناز ئې سېکتر وۀ۔

## منډان ادبي ټولنه؛

د منډان ادبي ټولنې د ړومبي روداد تر مخه ، د ۱۹۹۴ د اپرېل د میاشتې په ړومبۍ نېټه د منډان ادبي ټولنې بنیاد کېښودې شو ۔ په دویمه غونډه کښې د اپرېل د میاشتې په پینځلسمه نېټه د تنظیم د پاره عبوري کابینه د دریو میاشتو د پاره جوړه کړې شوه په متفقه طور چې کومه کابینه جوړه کړې شوې هغه په دې ډول وه۔

صدر : نظیف الله شاه معصوم

نائب صدر : بلال طوفان
مشر سېکتر : عادل صابوخېلوي
کشر سېکتر : عمران صابوخېلوي
پرېس سېکتر : فريد الله قاصر
ماليات سېکتر: اقبال خان

دې ټولنې په خپل وخت کښې د معمول د پينځلس ورځنۍ غونډو نه علاوه ډېر درانۀ پروګرامونه هم کړي دي۔ دا سلسله تر ۲۲ اپرېل ۲۰۰۲ پورې اوچلېده بيا په کښې يوه عرصه جمود راغلو۔ اوس اوس په ۲۰۱۷ کښې ئې بيا سر پورته کړے دے۔

## د وزيرو ادبي جرګه ډومېل :

د وزيرو ادبي جرګه ډومېل په مۍ ۱۹۹۲ کښې جوړه شوې ده چې باقاعده طور ئې د ۲۰۰۳ نه فعاليت اخستے دے چې وخت په وخت د مشاعرونه علاوه ئې په ۲۰۱۱ کښې اولنۍ تذکره "د وزيرو ادبي جرګې ستوري" بيا ورپسې ۲۰۱۳ کښې تهل وزيرو کښې خدائي خدمت ګار تحريک کتاب چاپ کړو۔ اوس ۲۰۱۸ کښې ئې د رودادونو کتاب "رشپېل" چاپ کړو۔ هم دغسې د ډاکټر نصر الله جان وزير د پي ايچ ډي مقاله " د غني خان فکر، فن شخصيت " خورونکې هم دغه د وزيرو ادبي جرګه ده۔ اوسنۍ کابينه ئې څۀ په دې ډول ده:

سرپرست: نعيم هاتهي خيل
صدر: عبدالناصر مخدوم
نائب صدر: حقداد حق صاحب
عمومي سېکتر: غريب جان
جائنټ سېکتر: امن احسان
پنګه ور: حسن دراز مضطر
اطلاعات: طاهر احمدزي

## اصلاحي ادبي ټولنه کوثر فتح خېل بنو :

دا ټولنه په مۍ ۱۹۹۷ کښې په وجود کښې راغله۔ دې ټولنې په عملي توګه ډېر اصلاحي

کارونه وکړل. د معمول د مشاعرو نه علاوه لېکچري او تنقيدي غونډې هم کوي. خو د ټولونه لوي کار ئې دا دے چې د بنو نه واحده ادبي مجله " شنه زرغونه " اوباسي. چيف ايډيټر ئې منيب راحل دے.
د " شنه زرغونه " رومبۍ ګڼه په اپرېل ، مۍ ، جون ۲۰۰۲ چې څلوېښت صفحې لري ديارلس ګڼې ئې چاپ دي چې اخېري ګڼه د طاهر کلاچوي نمبر دے.
د دې نه علاوه يوه ځانګړې تذکره " نوے سپرلے " هم لري. دا تذکره په مۍ ۲۰۰۴ کښې چاپ شوې ده. مولفين ئې دوه دي ا. منيب راحل او ۲. عادل صابو خېلوي.

## سپوږمۍ ادبي ټولنه:

سپوږمۍ ادبي ټولنه په ۱۹۹۸ ء کښې جوړه شوې وه. په کال ۲۰۱۲ کښې ترېنه سپوږمۍ تنقيدي ټولنه جُدا شوه. په کال ۲۰۱۷ کښې ئې تذکره د سپوږمۍ په نوم چاپ کړې ده.
مياشت کښې ئې دوه غونډې کېږي يوه تنقيدي او بله لېکچري. سپوږمۍ ادبي ټولنه هر کال ۱۲ ربيع الاول د حضور د ولادت په مناسبت نعتيه مشاعره د مشرانو په اعزاز کښې خصوصي پروګرامونه هم کوي. د دې ټولنې کابينې غړي او نور ملګري څه په دې ډول دي:

| | |
|---|---|
| سرپرست اعلی | پروفېسر طارق محمود دانش |
| صدر | سکندر خان سکندر |
| نائب صدر | محمد طاهر خان طائر |
| مشر سېکتر | هدايت الله عامر |
| کشر سېکتر | احسان الله ارمان |
| پرېس سېکتر: | انعام الله وصال |
| پنګه ور | بلال وليد |
| لائبرېرين | انعام الله طالب |

پروفېسر جاوېد جان ، بېتاب عادلوي ، عارف الله شعور، زار محمد زار، عرفان الله افاق ، عبدالله شاه غازي،

## د سپوږمۍ ادبي ټولنې د ملګرو چاپ کتابونه:

| | |
|---|---|
| ۱. د ډېوې سترګه (ترجمه) | پروفېسر طارق محمود دانش |
| ۲. ادبي وړانګې | پروفېسر جاوېد جان |
| ۳. د پښتو خپل قافيائي نظام | پروفېسر جاوېد جان |
| ۴. مخکښې به ځو | بيتاب عادلوي |
| ۵. ژغژغۀ | بيتاب عادلوي |
| ۶. ثناء خوان د محمد | هدايت الله عامر |
| ۷. واورين خيالونه | انعام الله طالب |
| ۸. د وزيرستان ادبي ستوري | انعام الله طالب |

## تنقيدي يون داود شاه بنو:

د دې ادبي ټولنې بنياد په ۳۱ اکتوبر ۱۹۹۹ کښې ايښے شوے دے.

ړومبۍ کابينه ئې دا وه:

سرپرست: ولي اياز عاطر
صدر: شپږ انداز
نائب صدر: صابر داود شاه
مشر سېکتر: رئيس بېدر
کشر سېکتر: رياض سېلاب
پنګه ور: رياض راحت (مرحوم)

موجوده کابينه ئې څۀ په دې ډول ده:

سرپرست: ولي اياز عاطر
صدر: ضياالرحمن ضيا
نائب صدر: يونس علي شاه قاصر
مشر سېکتر: صابر داود شاه
کشر سېکتر: حيات شاه حيات
پنګه ور: عطاالله مهتاب

تنقيدي يون داودشاه د شروع نه تر شپږو کالو پورې د بنو په سطح بلکه تر لکي مروته پورې غټې مشاعرې وکړې. دا مشاعره به هرکال د کم اخترپه دريئمه ورځ منعقد کېدله.
د دې نه علاوه تر ننه پورې تنقيدي يون مياشتيني اجلاسونه کوي. چې ورکښې تنقيدي غونډې ، طرحي مشاعرې ، ازادې مشاعرې ، لېکچري غونډې او د نوې املاپه حقله غونډې هم شاملې دي.
د تنقيدي يون ملګري د غزل او نظم سره سره په نثر کښې هم طبع ازمائي کوي.
چاپ اثار ئې دادي :
۱.ګونګه مينه يونس علي شاه قاصر ۲. رنګه خونه دلباز خان (مرحوم)
او تذکره : د يون ژغ

## پښتو سپوږمۍ تنقيدي ټولنه بنو:

دا ښکلې ټولنه په ۲۰۱۲ کښې په وجود کښې راغله ، باقاعده ائين لري او انتخابات ئې کېږي. د روايتي پروګرامونو نه علاوه د اېوارډونو دستورې او د کتابونو مخکتنې هم کوي ، دا ټولنه په کتابونو چاپ کولو کښې ډېره فعاله ده ، د پښتو کتابونه ئې دا چاپ کړي دي.

۱. سپوږمۍ (تذکره) مؤلفان : عاقل عبېدخېلوي او هدايت الله عامر
۲. د ازغو په بستره (شعري مجموعه) ممتاز مروت
۳. د امن زيرے (شعري مجموعه) اميرزمان امير
۴. سنګار د غزل (شعري مجموعه) عاقل عبېدخېلوي
۵. د ارباب رشيد د فن جائزه (تحقيق) عصمت سورانے
۶. رڼا د سپوږمۍ (تذکره) امير زمان امير
۷. د وخت ژرنده ممتاز مروت ، شعري مجموعه
۸. دوه اهونه دوه ياران (تذکره) عامر ناسک ، امجد
۹. د سيند غاړه. تراب منډان ، شعري مجموعه
۱۰. ګلدسته د شاعرانو (تذکره) ، تراب منډان

د دې نه علاوه يو شمېر کتابونه ئې راروان هم دي ـ
موجوده کابينه ئې څۀ په دې ډول دو ـ
۱ـ چيئر مېن : عاقل عبيد خېلوي
۲ـ مرکزي سرپرست : ډاکټر عبدالستار لواغري
۳ـ ضلعي سرپرست : عصمت سوراني
۴ـ صدر : امير زمان امير
۵ـ نائب صدر : تراب منډان
۶ـ نائب صدر دوم : برکت ميتا خېل
۷ـ کشر سېکتر : بلياز خاکسار
۸ـ خزانچي : امجد رحمان ادريس
۹ـ سېکتر : ياسر امين ياسر

## سوراني ادبي کاروان :

دا ادبي تنظيم په ۳۱ جنوري ۱۹۹۹ کښې جوړ شو ـ څۀ موده ئې د معمول مشاعرې او کليزه مشاعره اوکړه ـ چې تذکره " ربشۀ " ئې چاپ کړه نو د تقسيم ښکاره شو ـ يوسوراني پښتو ادبي کاروان بنو شو او بل تنقيدي کاروان سوراني ـ
غړي ئې دا دي : افتخار دراني اېډووکېټ ، ګل عزيز نزار ، ادريس سوراني ، اعجاز سوراني ، خواجه غريب نواز ، عمران سراب ، هارون سوراني ، وحيدالله وحيد ، شاهين سوراني ، طاهر شناس ، اجمل خان اجمل ، عمرزاد استاذ ، محمد طاهر خان طائر ، طارق محمود دانش او نور ـ
کابينه ئې د تېرو څو کالو راهسې دا ده :
سرپرست اعلےٰ : افتخار دراني
صدر : اعجاز سوراني
سېکتر : طاهرشناس
پنګه ور : وحيدالله وحيد

## ککي ادبي ملګري :

دا په ککي بنو کښې يو پخوانے ادبي تنظيم دے.نن صبا ئې فعال غړي دادي :
فراز پيرزاده ، نقيب الله سالک ، دمساز شاهين ، وحيد اساس ، اصف خان اصف
په چاپ اثارو کښې تذکره " دا خاوره زرغونه ده " او د نقيب الله سالک " عروضي نظام "
شامل دي.

دې نه علاوه ډېرې ټولنې او جرګې دا سې دي چې لا خو صرف نوم لري او لا صرف مشاعرې کوي د هغو نومونه دا دي.

| | |
|---|---|
| رحمان ادبي جرګه | ازاد ادبي جرګه |
| معيار ادبي جرګه | بانۀ ادبي ټولنه |
| ګلدسته ادبي جرګه | خپسور ادبي کاروان |
| ستوري ادبي ټولنه | بکاخېل ادبي جرګه |
| شوال ادبي ټولنه | بربښنا ادبي جرګه |
| ميريان ادبي ټولنه | قدم ادبي ټولنه |
| منډان ادبي مازديګر | پښتو ادبي مکتب |
| عيسکي ادبي ټولنه | اداره تخليقات |
| کاروان ادبي ټولنه غوريواله | کرم ادبي ټولنه |
| غلام غفار ادبي کاروان طغل خېل | غنچه ادبي ټولنه |
| قومي ادبي جرګه ډومېل | اېس کے بالا کالج پښتوادبي ټولنه |

## انجمن ترقي پسند مصنفين بنو:

اګر چه د شعوري ادب بنياد په بنو کښې د اولسي تنقيدي ټولنې بنو مشرانو ايښے وۀ خو د دې حقيقت نه هم انکار نۀ شي کېدے چې د ډېرې مودې راهسې دا رويه ډېره تته شوې ده .د نوي دور تقاضې نۀ پوره کوي.

خو د خوش قسمتۍ نه د ادب دا تنقيدي او شعوري او جديده رويه يوځل بيا د "انجمن ترقي پسند مصنفين "په صورت کښې را ژوندۍ شوه" انجمن ترقي پسند مصنفين بنو که څه هم د ګوتو په شمېر غړې لري خو د فعاليت نه ئې سترګې نۀ شي پټېدلې. د دې تنظيم

بنیاد په ۲۰۰۸ کښې ایښې شوے دے په دې حقله ډاکټر محب وزیر لیکي:

"تېرکال چې په ملکي کچ ښاغلے راحت سعید او په صوبائي سویه ښاغلے سلیم راز د انجمن ترقي پسند مصنفین د یو ځل بیا تنظیم سازۍ لړۍ پیل کړه نو زما په شمول د بنو دغه ځوانانو ورسره هم لاس ونیوۀ۔ او دا رنګې د څو مسلسل ملاقتونو نه پس دوه زره اتم د اګست په میاشت د پیراډائیز هوټل په یو وړوکې کمره کښې "انجمن ترقي پسند مصنفین بنو" ته باقاعده تنظیمي شکل ورکړے شوے۔ د انجمن په دغه ړومبۍ غونډه کښې منیب راحل ، ناصر مخدوم، نعیم هاتي خیل ، ګوهر وزیر، طارق محمود دانش ، رامبېل ساګر، اسد علي اسد ، لیاقت مهدي، عرفان ساقب او راقم الحروف ګډون کولو۔ او ښاغلے سلیم راز پکښې د انجمن د صوبائي کوارډینېټر په توګه په دغه غونډه کښې موجود وو۔"(۲۲)

انجمن د ترقي پسند مصنفین ټاکلے شوے آئین لري چې ټول غړي ئې د هرې دفعې پابنددي۔ کال په کال یوغټ پروګرام " د غزل شپه" په نوم کوي۔ د معمول د لېکچري و تنقیدي غونډونه علاوه سېمنارونه هم کوي۔ اوتراوسه ئې د خپلوغونډود رودادونو د نظرونه سیریز درې مجموعې چاپ کړې دي۔ چې د ادب پنګه ئې درنه کړې ده۔ د رودادونو نه پرته هم دا نظرونه سلسله مخ په وړاندې تر اووم نمبر پورې تلې ده خو دې نه پس ئې د رسالې شکل اختیار کړے دے۔ چې مهتمم ئې ډاکټرمحب وزیر دے او مرتبین ئې ګوهر وزیر او دیدار وزیر دي۔ دې علاوه ګڼ شمېر صلاح کاران هم لري۔

د بنو د ادبي جرګو ، ټولنو او تنظیمونو د دې څېړنې نه مونږ په دې نتیجه رسو چې دوئي ټول کار کوي ، محنت کوي خو په ځانګړې توګه ئې کوي۔ که چرې دا ټول تنظیمونه د یو مرکزي پلېټ فارم په چترۍ لاندې په سائنسي اصولو کار شروع کړي نو زما یقین دے چې نتیجه به ئې د پښتو او پښتنو په حق کښې ډېره ګټوره ثابته شي۔

---

## References:


1. Khan, M. H. (2007) Hayate Afghani, *Danish Khparanduya Tolana*, 2nd Ed., p. 502
2. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.25
3. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.26
4. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.27
5. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.27
6. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.28
7. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.28
8. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.28
9. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.28
10. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.29
11. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.29
12. Saifi, G. A.,Tareekh-e-Bannu Waziristan, p.155-156
13. Saifi, G. A.,Tareekh-e-Bannu Waziristan, p.156
14. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.351

15. Surani, M. (2010) Da Bannu Adab, p.21
16. Rahil M. (2013) Salor Miashtiza Shna Zarghona, Da Tahir Kulachvi Number, Islahi Adbi Jarga Diarlasama Ganra, p.30
17. Surani, M. (2010) Da Bannu Adab, p.24-25
18. Surani, M. (2010) Da Bannu Adab, p.26
19. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.366
20. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.366-367
21. Khaleel, M. J. (1994) Pa Suba Sarhad Ke Da Mukhtalefo Pakhto Adbi Tolano, Jargo ,Tanzimoona Ao Da Haghuee Kar, Da M.Phil Tahqiqi Muqala, *Pakhto academy UOP*, p.372
22. Wazir, M. Dr. (2010) Nazaroona (Ed.1), Sareeza, Anjaman Tarqqipasand Musannifeen Bannu, *Ameen Printing Press Peshawer*, p.2